Watizat, tous droits réservés

Dom'Asile

WATIZAT

OFPRA

# د OFPRA انلاین کیدل:
# د پناه غوښتنې اړوند پریکړې او د مرکې لپاره بلنه

2023

PACHTO

# د اوفپرا OFPRA انلاین کیدل په څه معنی ده ؟

که تاسو د د 2022 کال د می 2 میاشتې څخه وروسته د پناه اخیستلو د ثبت لپاره په پروفکتور کې GUDA دفتر ته تللي یاستئ، نو د اوفپرا ټول لیکونه به یوازې په انلاین ډول د اوفپرا په ویب سایټ کې ستاسو شخصي حساب ته واستول شي. هیڅ لیک به تاسو ته د پوست له لارې و نه لیږل شي.
اوفپرا هغه اداره ده چې په فرانسه کې د پناه غوښتنې د دوسیو د څیړلو مسئولیت لري.

اوفپرا ستاسو ټول دغه لیکونه د خپل ویب سایټ له لارې ستاسو آنلاین حساب ته استوي:

- د مصاحبې لپاره ستاسو بلنه
- له مصاحبې وروسته د اوفپرا پریکړه
- د پناه غوښتنې د دوسیې د رسیدو تصدیق پاڼه
- ستاسو د وضعیت مطابق ښایي په خپل انلاین حساب کې نور لیکونه ترلاسه کړئ لکه ۶ میاشتې وروسته یو لیک، د ملاقات لپاره د بلنې لغوه کول، د روغتیایی تصدیق پاڼه، په نورمال پروسه کې ستاسو د دوسیې د شاملولو په اړه لیک ...

امکان لري چې د دغه انټرنیټي سیستم د تخریب غوښتنه وکړئ، خو دا به ډیر نادر کار وي. له دغه کار سره به تاسو و شوای کولای چې په انټرنټ کې د انلاین حساب پرته د «کاغذ» په بڼه د اوفپرا څخه لیک ترلاسه کړئ خو دغه کار ستاسو د پناه غوښتنې د نوعیت په پام کې نیولو سره ښایي ممکن وي. که تاسو په یو ځانګړي حالت کې، چې تاسو نورو ځایونو ته د تګ وړتیا نه لرئ، نو د خپل وضعیت په اړه اوفپرا ته خبر ورکړئ.

# اوفپرا سایټ کې له انټرنټ څخه خپل لیکونه څنګه ترلاسه کولای شئ؟

که تاسو انټرنیټ ته لاسرسی نلرئ، کولی شئ د SPADA کارمندانو سره اړیکه ونیسئ. دوی به تاسو سره د انټرنټ له لارې د اوفپرا د لیکونو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. دوې به تاسو ته تشریح کړي چې څه ډول په خپل انلاین حساب کې لیکونه ترلاسه او چاپ کولای شئ.

Watizat, tous droits réservés www.watizat.org pachto

1. **په GUDA کې، تاسو به هغه سند ترلاسه کړئ چې په کې ستاسو د اوفپرا د شخصي حساب سره د وصل کیدو کود لیکل شوی وي. تاسو به د AGDREF نمبر ته هم اړتیا ولرئ چې ستاسو د پناه غوښتنې سند کې لیکلی وي.** له دې سره تاسو اوفپرا ویب سایټ کې وصل کیدلای شئ.
2. **ویب سایټ ته یې لاړشئ :** https://www.usager.ofpra.gouv.fr/ofpra/user/login





Watizat, tous droits réservés www.watizat.org

# د OFPRA انلاین کیدل

د اوفپرا سایټ په څو ژبو ژباړل شوی. په پورتنۍ ښي خوا کې په «Français» کلیک وکړئ او خپله ژبه انتخاب کړئ:




Watizat, tous droits réservés www.watizat.org pachto

3. په سایټ کې د لومړي ځل وصل کیدو په حالت کې تاسو باید خپل شخصي حساب فعال کړئ :




- د AGDREF هغه نمبر د ننه کړئ چې د GUDA دفتر په پاڼه کې تاسو ته درکړل شوی.
- دلته خپل کوډ انتخاب کړئ چې تاسو ته به اجازه درکړي چې له دې وروسته په ویب سایټ کې خپل خطونه ترلاسه کړئ.

کود لږاره باید لږ تر لږه 12 توري و ټاکئ، په شمول د یو کوچنی، او لوی توری، او یو ځانګړی کرکټر لکه (&? * $ + = / ;)

**مشوره!** د اوفپرا په سایټ کې په خپل حساب کې د وصلیدو پر مهال د نوم او کود عکس له ځان سره و ساتئ تر څو له یاده مو و نه وځي.

pachto
Watizat, tous droits réservés www.watizat.org

# د OFPRA انلاین کیدل

**4.** خپل د تلیفون شمیره یا بریښنالیک آدرس ولیکئ. که تاسو بریښنالیک آدرس نلرئ، موږ تاسو ته مشوره درکوو چې یو آدرس جوړ کړئ تر څو په راتلونکو اداري کارونو کې ترې ګټه واخلئ.




یوځل چې وصل شوی ، تاسو به وکولی شئ په خپل حساب کې به د اوفیرا لخوا استول شوي، لوستل شوي او نالوستل شوي لیکونه و ګورئ.
کولای شئ د پاڼې په سر کې د «زما اسناد» یا په برخه کې دغه لیکونه ترلاسه کړئ.
د لیک د ترلاسه کولو لپاره به تاسو ته د یو ټیلفوني پیغام له لارې خبر درکړل شي خو سره له دې باید هره اونۍ د OFPRA په ویب سایټ کې خپل حساب وګورئ.

د ترلاسه شوي لیکونو په لیست کې د خپل لیک لوستلو لپاره، په دې لوګو کلیک وکړئ :





| حالت | سند | د شتون نیته | لیږدونکی | د نوتیفیکیشن نیته | پاتې شوی موده ستاسو د غوښتنې د نظر نیولو لپاره | لیدل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ✔ لوستل شو 21/04/2023 | Decision Decision | 20/04/2023 | OFPRA | 21/04/2023 | ⌛ تر لاسه شوی معلومات | |
| ✔ لوستل شو 21/04/2023 | Mois 6 Months 6 | 23/02/2023 | OFPRA | | | |
| ✔ لوستل شو 11/10/2022 | Convocation Appointment | 06/09/2022 | OFPRA | 06/09/2022 | ⌛ تر لاسه شوی معلومات | |
| ✔ لوستل شو 11/10/2022 | Introduction lodging | 31/08/2022 | OFPRA | | | |
| ✔ لوستل شو 23/10/2022 | Creation compte Account creation | 11/08/2022 | OFPRA | | | |

کله چې مو په سایټ کې خپل اسناد و کتل، کولای شئ له خپل حساب څخه خارج شئ ترڅو بل څوک ستاسو بریښنالیک ته لاسرسی ونلري. ستاسو حساب به حفظ وي.

pachto
Watizat, tous droits réservés     www.watizat.org

# ایا تاسو خپل کود او نوم له یاده ایستلئ او یا هم ورک شوی ؟ :

- د ویب سایټ په عمومي صفحه کې ، «ما خپل کود هیر کړی» بټنه باندې کلیک کړی او خپل د AGDREF شمیره او هغه کود چې د GUDA په پاڼه کې ذکر شوی، دننه کړئ.
- که چیرې کود مو ورک کړی وي خو خپل بریښنالیک یا د تلیفون شمیره مو په سایټ کې ذکر کړی وي « زه نور زما د ننوتلو کود نه لرم» بټنې باندې کلیک کړی چې له دې سره به تاسو د SMS یا بریښنالیک له لارې خپل کود ترلاسه کړئ.
- که چیرې کود مو ورک کړی وي او د بریښنالیک آدرس یا د تلیفون شمیره مو په سایټ کې نه وي ذکر شوی نو د SPADA دفتر یا د خپل استوګنځي له کارکوونکو څخه مرسته و غواړئ.




Watizat, tous droits réservés www.watizat.org pachto

# کله باید زه په ویب سایټ کې خپل شخصي حساب وګورم؟

کله چې نوی لیک تاسو ته استول شوی وي نو په سور رنګ کې یو مسج تاسو ته ښودل کیږي.

**باید د خپل لیک د لوستلو لپاره د سند په لوګو باندې کلیک کړئ.**

د ځینو لیکونو د لاسته راوړلو د خبرتیا نیټه مشخصه شوې وي. تاسو باید د دغه خبرتیا له نیټې څخه تر 15 ورځو پورې  خپل لیک و لولئ.

**⚠ که چیرې په دغه موده کې په خپل انلاین حساب کې د اوفپرا لیکونه و هم نه لولئ نو اوفپرا به داسې تصور وکړي چې تاسو په 15 ورځو کې خپل لیک لوستلی دی.**

تاسو اوفپرا  ته نشی ویلای چې تاسو له خپل لیک څخه خبر نه یاست.

## پاملرنه! د اوفپرا OFPRA د منفي ځواب په حال کې :

که تاسو خپل لیک د خبرتیا څخه 15 ورځې وروسته پرانیسته نو محکمې ( ADNC) ته د اپیل کولو نیټه د هغې نیټې څخه پیل کیږي چې تاسو په خپل شخصي حساب کې لیک پرانیستی وی.

که تاسو ته د لیک د رسیدلو څخه 15 ورځې وروسته بریښنالیک نه وي لوستلای، محکمې ته د اپیل کولو وخت له هغې ورځې پیل کیږي چې تاسو ته لیک رسیدلی وي. د قانوني مرستې (وړیا وکیل) ترلاسه کول به سخته وي او تاسو به لږ وخت ولرئ چې محکمې ته غوښتنه وکړئ.

د محکمې په وړاندې د اپیل په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د Watizat معلوماتي لارښود (پروسیجرونه) او د Watizat یوټیوب چینل وګورئ.

https://watizat.org

**⚠ مهمه ده چې هره اونۍ د اوفپرا په ویب سایټ کې خپل شخصې حساب ته سر ور ښکاره کړئ. که تاسو دغه کار نه نشئ کولی نو SPADA  دفتر ته لاړ شئ یا خپل استوګنځي کې د ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسئ.**

pachto
Watizat, tous droits réservés   www.watizat.org